ISSN (**P**): 2709-9636 | ISSN (**O**): 2709-9644
**Volume 5, Issue 1, (Jan to March 2024)**
https://doi.org/10.47205/makhz.2024(5-I)urdu-15

ماخذ تحقیقی مجلہ

OPEN ACCESS

CC BY NC

**تاج نبی خان**
پی ایچ ڈی ریسرچ سکالر، شعبہ پشتو، مالاکنڈ یونیورسٹی
**ڈاکٹر مظہر احمد**
اسسٹنٹ پروفیسر، شعبہ پشتو، مالاکنڈ یونیورسٹی

# پیر ګوهر د شاعرِ امن په حیث

**Taj Nabi Khan**
PhD Research scholar at Pashto Department University of Malakand.
**Dr.Mazhar Ahmad**
Assistant Professor at Pashto Department University of Malakand.

***Corresponding Author:**

## Pir Gohar "The Poet of Peace"

The Pashtun land has always been a battlefield, but it is natural that no matter how many attempts have been made to set fire here and no matter how many wars have been fought, as a result, the writers here did not fight as a reaction, but these writers and poets. The image of peace has been prominent in poetry. In this regard, every poet raised the slogan of peace and decorated his poetry with the ornament of peace. In this way, there are poetry related to peace in Pir Gohar's poetry, he also received the award: "Poet of Peace" in this regard.

**Key Words:** *Pashto Poetry, Peace, Literature.*

پښتو ژبې او ادب ته ډېرو شاعرانو ډېر څۀ ورکړي دي چې د پښتو ژبې او ادب لمن ئې د رنګ رنګ مرغلرو نه ډکه کړې ده. په خصوصي توګه په دغه ورکړه کښې شاعرانو غوره او ښۀ کردار ادا کړے دے. ځکه چې شاعر د معاشرې سترګې وي هغه چې په معاشره کښې څۀ وینې ګوري هغې له په خپل فکر او تخیل کښې ځاے ورکوي او د شعر په شکل کښې ئې اولس ته وړاندې کوي. کۀ په یوه

ISSN (**P**): 2709-9636 | ISSN (**O**): 2709-9644
**Volume 5, Issue 1, (Jan to March 2024)**
https://doi.org/10.47205/makhz.2024(5-I)urdu-15



معاشره کښې خرابۍ وي شاعر هغې ته پورته ګوته نيسي او د هغې د علاج د پاره اولس ته پوهه ورکوي، کۀ په يوه معاشره کښې خوبۍ وي د هغې ستائينه هم کوي . د شاعر دا مقصد وي چې يوه ټولنه او په ټولنه کښې انسان ښۀ ښېرازه ژوند وکړي. په معاشره کښې دې امن و امان وي او هر څوک دې د خوشحالۍ ژوند وکړي. په دغه شاعرانو کښې يو د مردان د سيمې د پيرانو د کورنۍ سره تعلق لرونکے پير سيد ګوهر هم دے چې خلک ئې د شاعر امن په نوم پېژني. ځکه چې د امن لپاره ئې د خپل شعر په ذريعه ډېر کوششونه کړي دي او نايابه نظمونه ئې تخليق کړي دي. د دوي د پېدائش په اړه غمګين معيارے ليکي چې

"لوئې شاعر ښاغلے پير ګوهرچې د شاعر امن په نوم يادېږي په مردان کښې د پيرانو په کورنۍ کښې په ۸ات دسمبر ۱۹۳۱ء کښې پېداشوے دے. د پلار نوم ئې پير عبدالغفور شاه ؤ " ۱

پير ګوهر د يوې علمي کورنۍ سره خپل تعلق لرلو ځکه ئې د علم و ادب سره شوق لرلو او د سکول د وختو نه به ئې د تحريک پاکستان د سېوري لاندې جوړ شوي تحريک کښې برخه اخېستې وه او په جلسو او جلسونو کښې به ئې شعرونه وئيل. پير ګوهر ډېر په ماشوم والي کښې د پاکستان د ازادۍ لپاره هلې ځلې کړې دي. د هغوي عمر هغه وخت اتۀ کاله وۀ چې دوېم نړيوال جنګ منځ ته راغلو چې په لسګونو ميلونه خلک ئې ووژل او په لسګونو ميلونه کورنۍ ئې بې کوره کړې. دغه شان ئې د دنيا په سياست، معاش او اقتصاد هم ډېر اثرات خپارۀ کړل. د دې جنګ د لاسه ټوله دنيا متاثره شوه. او خاص کر جاپان ډېر متاثره شو چې کله هلته ايټم بم تباهي وکړه. دغه شان په کال ۱۹۴۷ء کښې پاکستان ازاد شو او د پاکستان د ازادۍ نه پس هم په دنيا کښې او په پاکستان

ISSN (P): 2709-9636 | ISSN (O): 2709-9644
Volume 5, Issue 1, (Jan to March 2024)
https://doi.org/10.47205/makhz.2024(5-I)urdu-15
ماخذ تحقیقی مجلہ

کښې پخپله ځينې جنګونه مخې ته راغلل چې اثرات ئې تر ننه پورې ليدے شي. دغه شان دغه اثرات د دنيا په خلکو هم پرېوتل چې شاعران اديبان ئې په خصوصي توګه متاثره کړل. شاعرانو اديبانو په دنيا کښې بد امنۍ ته ډېره پاملرنه وکړه او په خپلو شعرونو کښې دغه ټول حالات رانقل کړي دي. په پاکستان کښې د نورو شاعرانو تر څنګ پښتو شاعرانو هم ډېره ورکړه کړې ده. د امن په موضوع چې کومو شاعرانو ليک کړے دے په هغې کښې د پير ګوهر نوم يو ځانګړے حېثيت لري. ځکه چې هغوي د ماشوموالي نه دجنګ دغه اثرات ليدلي دي او د دې د تباهۍ نه خبر وۀ. ځکه ئې په خپلو نظمونو کښې د امن پرچار کړے دے او د جنګ نه ئې کرکه کړې ده. امن ئې د ټولې دنيا د سوکالۍ ژوند لپاره ضروري ګڼلے دے. ځکه په شاعر امن ياد شو دلته ئې هغه شعرونه ذکر کول مناسب ګڼم کوم چې ئې د امن د پاره ليکلي دي. خو اول د امن تعريف کوم چې امن څۀ ته وائي:

"پښتو ته د امن تورے د عربۍ نا راغلے دے چې د سلامتيا او حفاظت په معنا استعمالېږي"٢

په اکسفورډ ډکشنرۍ کښې د امن تعريف داسې شوے دے:

"Peace a situation are a period of time In which there is no war or valance...... in a country are an area." ٣

ژباړه: په يوه سيمه کښې د هغه وخت داسې حالات چې په هغې کښې د څۀ قسمه بد امني نۀ وي نو امن وي.

په اردو ډکشنرۍکښې هم د امن ټکي معنا استعمال شوې ده:

"چېن، اطمينان، سکون و ارام، سکوت و طمانيت، صلح، آشي." ۴

ISSN (**P**): 2709-9636 | ISSN (**O**): 2709-9644
**Volume 5, Issue 1, (Jan to March 2024)**
https://doi.org/10.47205/makhz.2024(5-I)urdu-15



د پورته حوالو نه دا څرګنده شوه چې امن قلارې، سلامتیا، سکون، ارام، اطمینان او د جنګ ضد ته وائي. دغه شان د ژوند لپاره د انسان ضرورت امن جوړېږي. ځکه چې امن یو داسې سماجي حالت ته وائي چې ژوند د هېڅ قسمه مایوسی او بې چېنی ښکار نهٔ وي. د یو انسان امن ته امن نهٔ شي وئیلے کېدے تر څو چې ټول خلک په امن و امان نهٔ وي، ځکه چې امن د هر انسان د ټولو اولني حق دے چې امن وي دنیا به اباده وي او د ترقی په لور به هره ټولنه سفر کوي.

ازاد دائره المعارف کښې د امن پېژندګلو داسې شوې ده چې امن د خپل تعریف له رویه څو معنې لري په مجموعي توګه امن ښهٔ والي، حفاظت، خپلواکی ځان ساتنې قسمت او خېر خېریت ته وئیلے شي. خو په انفرادي توګه د امن مقصد د تشدّد نه نه پاک ژوند ګڼلے کېږي. ۵ ــ امن د انسان د ژوند بنیادي ضرورت دے. هر څوک غواړي چې په نری کښې ښهٔ ژوند تېر کړي او په خوشحالی سره ورزې شپې سبا کړي. خو ولې په نری کښې د څو زورورو د لاسه د امن سلامتیا د بربادی سره مخ شوې ده او د خپلو سامراجي ګټو لپاره ئې دنیا او په دنیا کښې اوسېدونکیو ته زیان رسولے دے. د دغه جنګونو د لاسه نهٔ صرف انسانانو ته بلکې ځناورو، ونو بوټو، غرونو سیندونو، باغونو، سړکونو، هسپتالونو او دغه شان نورو ودانو ته نقصانونه رسولي دي. د دغې نقصان د لاسه انسان په تکلیف اخته شوې او ټولنه نوره وروستو پاتې شوې ده. د دغو جنګونو تاوانونه اکثرو شاعرانو بیان کړي دي او د انسان د ښهٔ ژوند لپاره ئې د سامراج او جنګ پرستو نه د دې مخ نیوې لپاره خپل اواز پورته کړے دے. په دغه شاعرانو کښې د پیر ګوهر اواز د هر چانه تېز او ښکاره دے. د دوې اکثر شعرونه د امن په موضوع لیکلي دي. اکبر حیات وائي چې:

ISSN (**P**): 2709-9636 | ISSN (**O**): 2709-9644
**Volume 5, Issue 1, (Jan to March 2024)**
https://doi.org/10.47205/makhz.2024(5-I)urdu-15
ماخذ تحقیقی مجلہ

"د پیرګوهر د شاعرۍ مختلف موضوعات دي. خو مینه، وفا، محبت، د ژوند د ښکلا، خلوص او امن د هغهٔ غوره ماضوعات دي. او د شاعرۍ ټول عمارت ئې په دغه قدرونو ولاړ دے.." ۶

د پیرګوهر په شاعرۍ کښې ټول انسانیت ته د مینې او امن درس ورکړے شوے دے. د "انسانیت پېغام" په نوم دعنوان لاندې نظم کښې لیکي:

مانه هېر د ګل او د بلبل
هغه پېغام دے
زهٔ د قوم شاعر یم دا زما
تازه کلام دے

څوک د رواېي ناست دے چې
ئې تله کښې پارسنګ ښکاري
څکه په دې زمکه ځاے په
ځاے لمبې د جنګ ښکاري
نن انسانیت ولېږه سرو
وینو کښې رګ ښکاري
توره د انصاف پرته لپه
تیکې کښې لارتګ ښکاري

ټول انسانیت هسې مجبور
هسې بدنام دے
زهٔ د قوم شاعر یم دا زما
تازه کلام ښکاري۷

دغه شان په دې نظم کښې د امریکې د لاسه د ویتنام د ظلم داستان هم بیان شوے دے او د جمو کشمیر د مظلومانو لپاره پکښې هم اواز پورته کړے شوے دے، چې نن هم د کشمیر خلق د دغه جنګ په لمبو کښې سوزي. پیرګوهر په دې نظم کښې د دغه ظلم غندلې او د ټول انسانیت خوا خوږو ته ئې د

ISSN (**P**): 2709-9636 | ISSN (**O**): 2709-9644
**Volume 5, Issue 1, (Jan to March 2024)**
https://doi.org/10.47205/makhz.2024(5-I)urdu-15

ماخذ تحقیقی مجلہ

امن د دښمن خلاف د يوې انساني ورورولۍ دعوت ورکړے دے.

نن د وېتام زمکه ده
په سرو وینو لمده
پرته
ځاے په ځاے او قدم
په قدم اور دے او
سیکه پرته
غوښه د انسان وریته
وریته تیکه تیکه
پرته
داسې د کشمیر په
مظلومانو توره شپه
پرته
څۀ چل دي په دې خلقو
د کوم جرم الزام دے
زۀ د قوم شاعر یمه
دا زما تازه کلام دے

ځئ چې د کشمیر او
فلسطین بېړه اوچته
کړو
ځئ چې ویټ کانګیانو
ته د ظلم سترګې ښکته
کړو
ځئ چې یو طاقت د ښمن
د امن ملامته کړو
هر انسان د دې نړۍ
قابل د احترام دے
زۀ د قوم شاعر یم دا
زما تازه کلام دے[8]

په پورته یاد نظم کښې د دنیا په هر ګوټ کښې جنګ غندلے شوے دےاو د امن غوښتنه شوې ده

ISSN (P): 2709-9636 | ISSN (O): 2709-9644
Volume 5, Issue 1, (Jan to March 2024)
https://doi.org/10.47205/makhz.2024(5-I)urdu-15



ځکه چې هغه وائي چې په دنيا کښې ترقي هله ممکن ده چې په هر ځاے کښې امن وي د امن نه بغېر يو قوم هم ترقي نۀ شي کولې. په کومو ملکونو کښې چې د جنګ نغارې وي هغوي په سيالۍ کښې د نورو نه وروستو پاتې وي. په ”پولې لاسونه“ کتاب کښې چې اولنې چاپ ئې په ۱۹۷۲ء کښې شائع شوے دے. بل نظم د ”امن“ په نوم ليکلے دے چې ډېر مشهور او مقبول نظم دے چې په دې نظم کښې پيرګوهر د امن لپاره د ټولې نړۍ واکدرانو ته د امن پرچار کړے دے. دغه شان د مينې پېغام ئې ورکړے دے. د دغه نظم په اړه قمر راهي ليکي:

> ”د هغۀ د شعري فن په حواله زۀ البته يو خبره کوم کۀ د ”امن“ او ”دا زما تازه کلام دے“ او د وېت نام چاربېتو ليکلو نه پس شاعري پرېښې هم وې نو د دې افاقي نظمونو طفيل به پير بيا هم د پښتو شاعرۍ يو نۀ هېرېدونکے نوم وۀ.“۹

دا هغه نظم دے چې پير ګوهر ئې د شاعر امن په نوم مشهور کړو. دلته ئې ذکر ضروري ګڼم.

زۀ غواړم په امن له ازغو د اشياء لمن
نۀ غواړم چې سوزي په ازغو دا ستا لمن
ډکه دې وي تل په ګلو سرو دا ستا لمن
ستا يمه شاعر يم په پښت د ايشياء لمن
بس په حق انصاف دې په رښتيا خبره سپينه شي
غواړمه چې ټوله دنيا

ISSN (**P**): 2709-9636 | ISSN (**O**): 2709-9644
**Volume 5, Issue 1, (Jan to March 2024)**
https://doi.org/10.47205/makhz.2024(5-I)urdu-15
ماخذ تحقیقی مجلہ

مینه مینه شي۹

تل دې په مزو وي د
یورپ او امریکې ورونه
کړي دې ترقي د استرېلې
او افریقې ورونه
ښاد دې اوسي تل د خپل لې
خپلې مېکدې ورونه
وي په یو وروری دې د
دنیا د دې خطې ورونه
لرې دې شم کشمیر ویت
نام و فلسطینه شي
غواړمه چې ټوله دنیا
مینه مینه شي۱۰

پیر ګوهر په دې نظم کښې ټولې نړۍ ته او د نړۍ هر وګړي ته د امن پېغام ورکوي. د بمونو او جنګونو نه کرکه او د یو بل ازلي دشمنانو روس او امریکې ته هم د یووالي پېغام ورکوي.

دا د باشعورو نړۍ
غواړم چې اباده وي
ورک دې شي بمونه
اوجنګونه ملک برباده
وي
امن امن امن بس په امن
دې تل اباده وي
دا زانګو د امن دې
رښتیا په ام یاده وي
زار دې امریکه له روسه
اوس دې زار له چینه شي
غواړمه چې ټوله دنیا
مینه مینه شي۱۱

دا هغه نظم دے په کوم چې پیر ګوهر ته د شاعر امن خطاب ورکړے شوے دے. غمګین معیارے لیکي:

ISSN (**P**): 2709-9636 | ISSN (**O**): 2709-9644
**Volume 5, Issue 1, (Jan to March 2024)**
https://doi.org/10.47205/makhz.2024(5-I)urdu-15
ماخذ تحقیقی مجلہ

”د پیر صېب د وینا مطابق د ”شاعر امن“ دا خطاب هغوي ته ”رائټرز ګلډز“ ورکړے دے. خو وروستو بیا په یوه جلسه کښې د ”امن“ نظم په اوربدو پوره د تصدیق مهر پخواني صدر جنرل محمدؐ ضیاء الحق ولګولو. د پیر صېب دغه نظم په ډېرو ژبو کښې ترجمه شوے دے، او په سرکاري سطحه ئې د اقوام متحده په ګېلرۍ کښې د اوېزاندولو دپاره خواست هم شوے دے.“ ۱۲

د پیر ګوهر نظم او غزل دواړه د خپل دور د ټولو موضوعاتو احاطه کوي. د انساني ټولنې د هرې ستونزې حل لري خودلته زما موضوع د امن سره تړلې ده. په یوه ټولنه کښې د طبقاتي لاندې باندې او بد امنې د یوې علاقې نه بلې علاقې ته خوربېږي او نورو علاقو ته دغه جنګونه وګرځي. په دغه حواله د شاعر ذمه داري زیاته وي هغوي دې هر څۀ ته پاملرنه کوي. پیر ګوهر هم په دې اړه ډېر زیرک او حساس شاعر دے، هغه په یو نظم کښې پخپله وائي چې نۀ زلفې، نۀ مژګان او نۀ زلفان پېژنم چې ترڅو په دنیا کښې امن نۀ وي.

تر هغې پورې به زلفې
نۀ لبان پېژنم
چې تر څو پورې په ام
ټول جهان نۀ کړمه
نۀ د پوزې مېخکښې او
نۀ پېزوان پېژنم
چې قاتل د بنیادمو په
زندان نۀ کړمه
د کمزور غوښې خوري
ورته لېوان ناست دي
چارچاپېره د ایشیاء نه
د رواېان ناست دي
دې سامراج له مې خوښ
کړي د سماج راج دے

ISSN (P): 2709-9636 | ISSN (O): 2709-9644
Volume 5, Issue 1, (Jan to March 2024)
https://doi.org/10.47205/makhz.2024(5-I)urdu-15
ماخذ تحقیقی مجلہ

له تر او سه مظلو مانو د
سامراج راج دے۱۳

د پیر گوهر د ټولو نه اولني مقصد او مدعا امن ده چې امن نۀ وي دنیا ورانه وي. ځکه هغه د ټول انسانیت د پاره خېر غواړي. ایوب صابر صېب لیکي:

"پیر گوهر د مردان شاعر دے، د پښتونخوا شاعر دے، د پاکستان شاعر دے او د ګردې نړۍ شاعر دے. مینه، محبت، سړیتوب، شرافت، انسانیت او وطن پرستي د دۀ د شاعرۍ ترکیبي اجزاء دي. په موجوده دور کښې دنیا د نفرتونو په تیارو کښې او جنګونو په لوګو کښې ډوبه ده او د دنیا هغه شاعران چې د نفرتونو او جنګونو خلاف جهاد کوي لګیا دي په هغوي کښې پیر گوهر هم شامل دے." ۱۴

کوم ځائې چې هم ظلم روان دے پیر گوهر غندلے دے. د "کاروان" تر عنوان لاندې ئې یوه چاربېته لیکلې ده چې د امن پېغام ئې په کښې ډېر په خوندور انداز وړاندې کړې دے د هغې نه یو څو شعرونه راوړم:

د سامراج د منګل نه
اوس ځان خلاصوي
ایشیاء، افریقه،
لاطیني، امریکه
د سامراج سترګې سرې دي
بې کاره ئې شۀ دام
بلوي هر طرف ته د سرو
وینو اور
اوس بېدار او هوښیار
به څوک څنګ کړي غلام
د تهذیب خاوندان کوي
هر څۀ په زور
دا ستم به کوي دوي تر

ISSN (**P**): 2709-9636 | ISSN (**O**): 2709-9644
**Volume 5, Issue 1, (Jan to March 2024)**
https://doi.org/10.47205/makhz.2024(5-I)urdu-15


ثو په وېټ نام
د حق نوم اخېستل ورته
ښکاري پېغور۱۵

په ۱۹۶۴ء کښې امریکې په وېت نام حمله وکړه او د وېتنام په خلقو ئې د ظلم او زیاتي یو قیامت جوړ کړو. دغه ظلم او زیاتې د دنیا د انساني ژغورنې تنظیمونو غندلې دي. پیر ګوهر هم په ډېرو نظمونو کښې د وېت نام سره ظلم او جبر غندلے دے. ورسره ورسره ئې د کشمیر د اولس سره د شوي ظلم هم غندنه کړې ده، او په اسرائیلو لخواد فلسطین مسلمانانو سه د ظلم لړۍ ئې هم غندلې ده. دغه ظلم نن هم روان دے چې اسرائیلو د فلسطین په زرګونو خلق شهیدان او زرګونو ژوبل کړل. د هغوي ښارونه ئې په بمبارو مسمار کړل. پیر ګوهر دا ظلمونه هغه وخت غندلي دي. په "شفق" نظم کښې ئې هم دغه اړخ ته اشاره کړې ده. پیر ګوهر دا نظم د لاچی کوهاټ په یوه درنه مشاعره کښې په کال ۱۹۶۴ء کښې اورولے دے، دلته ترې یو بند راخلم:

دا ثوک لمنې د اسمان
سوزي
ثوک سوخت اخېستې دي
جهان سوزي
دا د وېټ نام د قتل
عام وینې دي
ثوک احتجاج کوي خپل
ځان سوزوي
اور په کشمیر کښې
فلسطین کښې بل دے
کۀ روڼ ایشیاء کښې تور
انسان سوزي
په تور دا سپین ظلمونه
وینې وینې
وینې دا بل اورونه

ماخذ تحقیقی مجلہ
ISSN (P): 2709-9636 | ISSN (O): 2709-9644
**Volume 5, Issue 1, (Jan to March 2024)**
https://doi.org/10.47205/makhz.2024(5-I)urdu-15

وینې وینې
د چا د وینو نرۍ رود
دے روان
چا لګولې دي د وینو
دوکان
څښلې شي وینې د مزدور
او دهقان
کۀ ئې دښمن شو خداے
رټلے شیطان
نه نه شیطان ترې نه هم
غواړي امان
خپل ځان ته وائي مهذب
انسان
لوے د سامراج نوکونه
وینې وینې
وینې دا بل اور نه وینې
وینې[۱۶]

په جنګ جنګ ماحول کښې د امن او صلح امېدونه او طمع د لوے انسان او حوصله مند وګړي کار دے. د وینې وینې ماحول او جنګزده خاورې په غېږه کښې د خوشحالۍ او ترقۍ خوبونه سترګه ور او با شعوره خلق وینې او دغه شان په غېږ یقیني صورتحال کښې د امن بوټي کرل د مفکرینو کار دے. پیر ګوهر (شاعر امن) په هغه با شعوره مفکرینو کښې شامل دے چې تل ئې د امن او خوشحالۍ امېد د خپل اولس ذهن او زړۀ ته د کوزولو کوشش کړے دے او خپل ذمه داري ئې په ښۀ توګه تر سره کړې ده. د امن لپاره ئې د یووالي پېغام هر مسلمان وروړ ته ورکړے دے. هغه په خپل یو نظم "راځئ چې یو شو" کښې وائي:

څومره به ښۀ وي چې په
یو لار شو
په یو منزل شو په یو
پړاؤ شو

ISSN (P): 2709-9636 | ISSN (O): 2709-9644
**Volume 5, Issue 1, (Jan to March 2024)**
https://doi.org/10.47205/makhz.2024(5-I)urdu-15
ماخذ تحقیقی مجلّہ

مسلمانانو بس دے راویښ شئ
راځئ چې یو شو راځئ چې یو شو
په ځان پوهه نۀ شوئ
ټکړې ټکړې شوی
ذرې ذرې شوی، قطرې قطرې شوی
جدا جدا شوی، چې چې شوی
فرقې فرقې شوی، طبقې طبقې شوی[۱۷]

دغه شان په یو بل نظم "مسلمان" کښې هم د ظلمونو غندنه کوي او د ظالم لاره نیسي. نورو مسلمانانو ته هم د دغه ظلم او جبر د مخنیوي دعوت ورکوي.

هر ځاے چې اوچته د مظلوم د زړګي کریکه شي
هر مظلوم انسان ورته د خپلې وینې څړیکه شي
بیا کفن په سر روان د حق په تیارۀ لیکه شي
چرته چې په ظلم د مظلوم دنیا تاریکه شي
مرسته د مظلوم کښې به وردانګي په اورنو
هر ځاے چې وي جرړې به اوباسي د ظلمونو[۱۸]

په یو بل نظم "ازغن سپرلي" کښې چې په کال ۱۹۹۱ء کښې منظر عام ته راغلے دے. په دې کښې ئې ډېر غوره نظمونه او غزلې لیکلي دي. په دې کښې یو نظم "د عالمي سیاست یوه نندارہ" د عنوان لاندې ئې لیکلي دي چې یو طرفته د طنز و

مزاح بهترينه نمونه ده نو بل اړخ ته پکښې د عالمي سياست عکاسي هم شوې ده. هغه وائي:

چا سره راکړ چا سره بم
چا سره لور دے
چې شئ ورونو چپ شئ
بنیادم په مشین سور دے
دوي چې په وړه خبره
ونښلي په خپلو کښې
يو د بل نه وړاندې دي
بمونو جوړولو کښې
ډير شي پکښې قتل په
زورونو ازمائيلو کښې
جنګ د مذهبونو د منبلو
نۀ منلو کښې
کله دښمن شے تور د
سپين او سپين د تور دے
چې شئ ورونو چپ شئ
بنيادم په مشين سور
دے[19]

دغسې په "غواړم" نومې نظم کښې هم د ټول انسانيت نه مينې او خلوص طمع ساتي او پخپله هم د مينې پيغام او شعور خپرول غواړي:

وايم چې د مينې تخم هر
يو ځاے کښې نال کړم
ښۀ ښکلې چمن سدا بهار
جوړول غواړم
بس چې ورکړه راکړه وي
د مينې د خلوص په نوم
ښۀ د روغ نيتې ښکلې
بازار جوړول غواړم[20]

د پير ګوهر (شاعر امن) ډير داسې نظمونه او غزلې دي چې په هغې کښې ئې د ټول انسانيت له پاره د خير او مينې پيغام ورکړے دے. د

ISSN (P): 2709-9636 | ISSN (O): 2709-9644
Volume 5, Issue 1, (Jan to March 2024)
https://doi.org/10.47205/makhz.2024(5-I)urdu-15


هغوي د هر دور شاعري د خپل وخت ترجمانه ده. دخپل وخت هر ظلم او جبر ئې غندلے دے او د جنګ نه ئې کرکه کړې ده. د امن لپاره ئې تل خپل اواز پورته کړے دے او د دنیا د اولس نه ئې د امن قائم ساتلو غوښتنه کړې ده. لنډه دا چې پیر ګوهر د ام ترجمان دے او د جنګ خلاف د هغوي شاعري د مزاحمت نه ډکه ده.

حوالې:

1. غمګین معیارے، شاعر امن، فن او شخصیت (سرسري) محقق، ازاد افغانستان یاران خپروندیه ټولنه، ۱۳۸۹هـ وړومبے چاپ مخ ۴
2. عربي لغت، لغت القاموس العریه، لاهور ۲۰۰۲ء، مخ ۲۲۴
3. Oxford English dictionary online google.
4. فیروزالغات اردو لغت، تابع عبدالسلام پېروز سنز لاهور، مخ ۱۲۳
5. ازاد دائره المعارف، ویکیپیډیا، ur. Wikipedia.org.2023/11/1
6. اکبر حیات، حق شعور، مقدمه، جاوید پرنټنګ پرېس مردان، ۱۹۸۶ء مخ ۱۳
7. پیرګوهر، (شاعر امن) پولی لاسونه، دویم چاپ، کاټلنګ پښتو ادبي جرګه، مردان، ۲۰۱۱ء، مخ ۲۳
8. هم دغه اثر، مخونه ۲۵، ۲۴
9. هم دغه اثر، مخ ۱۷
10. پیر ګوهر، (شاعر امن) پولی لاسونه، دویم چاپ، مخ ۱۷
11. هم دغه اثر، مخ ۱۹
12. هم دغه اثر، ص ۱۰
13. هم دغه اثر، مخ ۴۱
14. حق شعور، پیر ګوهر، د امن او مینې بیامبر (ایوب صابر) ۱۹۸۶ء، ګلستان ادب، مردان مخ ۵

ISSN (**P**): 2709-9636 | ISSN (**O**): 2709-9644
**Volume 5, Issue 1, (Jan to March 2024)**
https://doi.org/10.47205/makhz.2024(5-I)urdu-15
ماخذ تحقیقی مجلہ

15. پیر گوهر، پولی لاسونه، مخ ۲۷
16. هم دغه اثر، مخ مخونه ۳۴ــــ ۳۳
17. هم دغه اثر، مخ ۱۴۷
18. هم دغه اثر، مخ ۱۴۳
19. پیر گوهر، ازغن سپرلے، پښتو ادبي جرگه کاټلنگ، مردان، فروري ۱۹۹۱ء، مخونه ۱۱۸، ۱۱۹
20. پیر گوهر (شاعر امن) حق شعور، مخ ۳۷